**مطبوعاتي اعلاميه**

**د اردن رژیم د مسلمانانو د احساساتو په وژلو سره هڅه کوي، چې له قدس او الاقصی څخه د ملاتړ په موخه د هغوی د لاریونونو مخه ونیسي!**



(ژباړه)

د اردن امنیتي ځواکونو د ۲۰۱۸م د جنوري په پنځمه د حزب التحریر له لوري له قدس، الاقصی او ټول فلسطین څخه د ملاتړ په موخه د اردن په پلازمېنه عمان او رصیفه ښارونو کې جوماتونو ته څېرمه د لاریونونو مخه ونیوله. د خلکو د لاریونونو ډګرونه د امیتي ځواکونو له لوري پر نظامي زندانونو بدل شول او د دغه هېواد امنیتي ځواکونو د نوموړي حزب درې غړي د «نزال» جامع جومات مخې ته ونیول او د حزب د نورو غړو په نیولو پسې ووتل.

له دې سره سره امنیتي ځواکونو خبریالانو او انځور اخیستونکو ته د دې پېښې د پوښښ اجازه ور نه کړه او ان د دوی د کمرو د اخیستلو هڅې یې وکړې، په ورته وخت کې یې د ځینو انځور اخیستونکو ارتباطي وسایل هم ضبط کړل.

حزب التحریر- ولایه اردن له خپلو خلکو سره اوږه په اوږه په پوره ویاړ له دغو ځپلو، ځنډونو او د اردن د حاکم رژیم له کمزوریو سره سره په ښکاره اعلانوي، چې د قدس،

الاقصی مسجد او ټول فلسطین له ملاتړ څخه لاس نه اخلي او د دیني وجیبې د ترسره کولو او د قدس او الاقصی مسجد د دفاع لپاره د اسلامي پوځونو  له رابللو څخه نه تیرېږي او په خپل کار کې قاطع دي.

د اردن د رژیم دا ټول ځپل او خنډونه د دې ښکارندویي کوي چې له بیت المقدس او الاقصی څخه یې د ملاتړ ادعا دروغ ده او یوازې یو رسنییز او سیمه‌ییز لګښت دی.

**د حزب التحریر- ولایه اردن مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: ۱۵/۳۹**

**۱۴۳۹هـ.ق، د ربیع الثاني ۱۸مه**

**۲۰۱۸م، د جنوري ۵مه**

**ژباړن: شجاع**